**مطبوعاتي اعلامیه**

## د ډارنو خلکو سترګې به هېڅ کله پټې نه شي!

د ۲۰۱۹م کال د اګیست په ۱۹مه د نړۍ د شپږم لوی پوځ مشر جنرال باجوه ته درې کاله نور هم د پوځ مشري ورکړل شوه، په دې اړه لومړي وزیر داسې وویل: «دا پرېکړه د سیمه ییز امنیتي چاپېریال له کبله شوې ده.» په اوسني سیمه ییز امنیتي چاپېریال کې چې د امریکا او هند تر سیوري لاندې دی، هغه څوک د مسلمان ځواکمن لښکر د مشرۍ پر غاړه اخیستلو وړتیا لري چې د الله سبحانه و تعالی او د هغه د پیغمبر صل الله علیه وسلم له اوامرو سره سم په سیمه کې امنیت ټینګ کړي. د ارزښت وړ جنرال هغه څوک دی چې په مستعمره کشمیر کې د مسلمانانو اوښکې پاکې کړي، په چټکۍ سره په کشمیر کې امنیت راولي او خپل زړور عسکر حساس جنګ ته واستوي، وروسته له هغې چې د سرینه ګر ښار پر وړاندې برې کې د تکبیرنو خواږه اوازونه د خلافت له بیرغ سره یو ځای پورته شي. د پاک لښکر پاک جنرال هغه کس دی چې په پرلپسې بریاوو سره خپل لښکر د هند د نیمې وچې لوړې څوکې ته ورسوي. دا په رښتیني مسلمان جنرال پورې اړه لري چې په ډېرې چټکۍ سره افغان طالبان له ظالمو ځواکونو سره چې له شرمونکې ماتې او بشپړ وتلو په وېره کې دي په خبرو اترو کې له چل او فرېب خبر کړي. باجوه هڅه کړې چې یوه سیاسي معامله وکړي او د متحده ایالتونو نظامي ځواک په سیمه کې ځای پر ځای کړي. دا په زړور مسلمان جنرال پورې اړه لري چې په ټینګه له افغان طالبانو ملاتړ وکړي او په بشپړ قدرت سره یې د جهاد خیر او ښېګڼې ته راوبولي چې د الله تعالی د دین لپاره یې د دوی د وینو او پولادو په بدل بشپړه بریا تر لاسه کړې. پرهېزګار جنرال کولای شي د ډیموکراسۍ لپاره ټول سازماني ملاتړ څخه ځان وباسي چې خلک یې د IMF او پانګوال کفر تر ډېرې لاندې ټوټه کړي او هغه څه چې د الله تعالی له لوري ورکړل شوي مرسته کوي، د ده خلک کولای شي له خورا ډېرو شیانو چې الله سبحانه و تعالی پاکستان ته ورکړي ګټه پورته کړي، په حقیقت کې، زموږ له لوري له هرشي لږ د امت د زمریانو لپاره وړ جنرال به زموږ پر وړاندې شاهد وي. رسول صل الله علیه وسلم فرمایي: **«إِذَا وُسِّدَ الأَمْرُ إِلَىَ غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ» «کله چې له وړ کسانو پرته چارې نور کسانو ته سپارل کېږي، بیا نو د قیامت لپاره انتظار وباسئ.» [بخاري].**

اې د پاکستان د وسلوالو ځواکونو زمریانو! رښتینی جنرال خالد بن ولید چې کله د مرګ پر بستر پروت و داسې وویل:

**لقد شهدت مئة زحف أو زهاءها، وما في جسدي موضع شبر إلا وفيه ضربة بسيف أو رمية بسهم أو طعنة برمح، وها أنا ذا أموت على فراشي، حتف أنفي، كما يموت البعير فلا نامت أعين الجبناء**

***ژباړه: «ما په سلګونو جګړو کې برخه واخیستله او په بدن کې مې داسې ځای نشته چې د توري، نیزې او غشي داغ نه وي، مګر نن زه پر خپل بستر لکه زوړ اوښ مرم او ډارن خلک به هېڅکله ارام نه شي.»***

اې د سیف الله وارثینو! د نبوت پر منهج د خلافت د پروژې لپاره د حزب تحریر مخلصو کار کوونکو ته نصرت ورکړئ او له دې د لوی اسلامي امت دین حمایه کړئ، څکه تاسو داسې جنرالان لرئ چې په ربښتیا هم ستاسو د قوماندې وړتیا لري او د سپېڅلې بریا او شهادت لپاره ستاسو مشري کولای شي.

**په پاکستان کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ١٤٤٠ / ٧٧**

**۱۴۴۰ د ذوالحجې ۱۹مه**

**۲۰۱۹ د اګېست ۲۰مه**